**د سیاست او دین د جلا کېدو او د کلیسا موظوع**

**حقیقت دادی چی ددغه پوچ فکر درامنخته کیدو عوامل او اسباب چی په اروپایی ټولنه کی یی الحادینه مسلک په خپریداکی مرسته وکړه مهم یی په لاندی توګه دی**

1 **د کلیسا د دیني رهبر انو ظلم**

2 **دین تعریف او بدلون**

3**په غیر معقول شکل فکر او نظر په خلکو تحصیلول او ورته دیني او مذهبي رنګ ورکول.**

4**خلکو ته ګناهونه معافول او د جنت ټکټونه ورکول.**

5 **په مسیحیت کې بت پالنه او شرک**

6 **دکلیما او عصری پوهانو ترمنځ ټکر.**

**شهرت پالنه اوله دیني او شرعي قیودوڅخه پرته ازاد ژوند سره دخلکو مینه.**

**یهودیانو د عیسی علیه السلام دوژلو تصمیم ونیوه مګر الله تعالی ورته نجات ورکړ او ژوندی پی اسمان ته پورته کړ تر هغه وروسته یې د هغه د ملګرو په تعذیبولو لاس پوری کړ، بولس یهودی د نصرانی دین ډېره کیښوده بت پالنه ،شرک ، موسیقی، ګا ،نڅا، زنا، سودخوړل، او شراب خوړل یې دغه دین ته را دننه کړل په منځنیو بیریو کی داروپایانو پر ژوند د کلیسا اونصلیب دینی شخصیتوبوواکمنی درلوده کلیسا خپلو مذهبي مشرانوته له اندازی زیات واک ور وبخلو تر دی چی د پاپ پر عظمت او له هر رنګ ګناه او تیروتنی څخه یی دپاکوالی اعلان وکړ او هم**

يې فرمان صادر کړ چي ددوی د اوامرو او حکمونو مخالفت له کفر سره ترادف لري.

د اروپا وګړی خو پیری چوپه خوله ناست وه د پاپ له رایی پرته هیچا د نظر وړاندي کولو حق نه درلوده دین بی تحریف کر دیاپ وینا دالهی کلام حیثیت درلود داروپا وګړی دپاپ له لاسه ترسوړمو راغلی وه دکلیسا مشرانو دوخت فلسفه په کتاب مقدس کی وردننه

کړه هر کله چې په شپاړسمه پیړی کی ساینس پوهانو نظریات ور کړل د پاپ له کتاب مقدس سره یې سمون درلود اود ساینس پوهانو او پاپ تر منځ تکر رامینځته شو او په هغوی یی د کفر فتوی صادره کړه دری لکه او دیرش زره ساینس

پوهانو یی په مرګ محکوم کړل ددوی له جملی څخه پی دیرش زره ژوندي وسوزول تر دې وروسته د کلیسا او د وخت امپراتور پر ضد پاڅون وشوه دحریت او ازادی ناری پیل شوی ولسونو او ساینس پوهانو ازادي تر لاسه کړه په اروپا کی صنعتی انقلاب رامینځته شو د خلکو ټوله پاملرنه د عصری علومو لور ته شوه د دوی پوهاتو به چی هره خبره وکړه خلکو به پری باور کاوه دغسی ظالمانه فاسد ټوکو او مسخرو غیر معقول بصرانیت او دمسیحیت ظلم او حشیت لبرالی سیکولار ستی او کمونستی تصور ته د واکمنی زمینه برابره کړه او دبشریت یی له انسانیت نه دحیوانیت ژوری کندي ته پری ویست تمارکستانو دپو کراتانو سیکولر او لبرالو وګړو لویه اشتباه داوه چی اسلام یی هم دمزخرفو ، محرفو ، غیر معقولو دینونو په کتار کې ودرولو په داسی حال کی چی اسلام نه غیرمعقول دین اونه دساینس ضد او نه محرف او نه د مذهبي رجالو په انحصار کی قرار لري او نه داشرافو ، سود خورو محترکینو په چوپر کی دین اسلام جلا اقتصادی نظام لری اسلام او دلویدیخ

پانگواله نظام په یوه کتار کې درول ډیره لویه غلطی اوستره اشتباه گنل کیږی په اسلامی هیوادونو کې د اسلامی حکومت غیاب د اسلام د حقیقی واکمني سقوط په ديني او عصری علومو کی دملتونو

او حاکمانو ناپوهی دودی ، نفاق، فقره او بدبختی اعتقادی او دینی خرافات اخلاقی زوال اسلامی هیوادونو ته د الحادی اولادینه افکارو در انویستو زمینه برابره کړه ځوان نسل ته هم د کلیسا دمزخرف او تحریف شوی دین په توگه وکتل شوه حقیقت دادی چی اسلام ددنیا او اخرت دروح او مادی دین دی دکلیسا له تحریف شوی او تیر شوی دین سره یې په یوه تله تلل معقول کار نه بریښی داځکه چې یوخو د عیسی علیه السلام لارښوونی په خپل حال پاتی نه شوي له بلی خوا نصرانیت دیو اقلیمی او سیمه ایز دین هدایات پی دموقت وخت لپاره وه داسی حال کی چی قران عظیم الشان نړی وال تل پاتی پیغام او محمد ص لی الله علیه و سلم تر قیامته پوری دتولی دنیا د قامونود لارښود په توگه لیږل شوی دی اروپایان په دی پوهیږی چی اسلام دبشریت دټولو ستونزو د حل صلاحیت لري او یوازی د عربو دین نه بلکی د ټول بشریت دین دی د کرکې او کینی له امله یی ډیر پخوا په صلیبي جگړو لاس پوری کړ او بیا پی نولسمه أو شلمه پیری کی زیاتره اسلامي هیوادونه تر خپلې ولکې لاندي راوستل مگر وروسته چی اسلامی امنت راویښ او دخپلی اذادی لپاره یې په کوښښونو لاس پوری کړ او استعماری هیوادونه یې وتلو ته مجبور کړل هغوی په دغه موده کې د گمراهانو او لاسپنه خلکو دلی تپلی جوړی کړی تر ازادی وروسته یی په اسلامی هیوادونو کی نظامی عسکری او ملکي واک اختیار خپلو نوکرانو ته په میراث پریښود په اوسني وخت کې په اسلامي هیوادونو کي د اخ اوډب گډوډی او د جگړو عمده لامل بې دینی

اود استعمال تالې څتی دی.

نوپردی اساس

۱ـ مومن مسلمان باید نسیاسی فکر او عمل ځښتن وی اسلام پی تر هغه نه بشیر نبردی تر څو په اسم این د س

ته غمونو غمجنونه او می ۲ـ اسلامی شمول سیاسی کار د مومن مسولیت گرخوی خکه ددین تطبیق او تنفیذ له همدی لاری کای شي -۳ ددین او دولت تر منځ بیلتون کفری او الحادی تصور دی هر کله چی اسلام له سیاست څخه جلا شی ده نه سیاست ،فرهنگ اقتصادی او ټولنی څخه لیری اسلام نو څه شی دی ؟ اپل دا یو څورکعته دزړه له حضوره خاشی نو تشکر از اذکار داسلام او د رسول الله درسالت مقصد دی او یادقران عظیم الشان دغه ستر نظام دیو څو محدونو اخلاقی فضای

ترویج په خاطر نازل شوی ؟ خواب دادی چی هیڅکله نه . -۴ څوک چی دا گومان کوی چی دین له سیاست څخه جلااو ورسره سروکار نه لری په یقیني توگه یی په خپل ځان داسلام

سم کړی دی. ا-۵ د مومن ستر مقصد تدین تطبیق او تنفیذ دي ددین له علی اجراء او تطبیق څخه پرته ددین بقاء له امکانه وتلې خبره ده

د سیاست پیدایښت

پوهانو یی بنستونه په لرغوني یونان کی د سقراط او اپلاتون په کتابونو او نظریاتو

کی موندلي دی دوی فکر کوی چی د یونان ښاري دولتونه یا City States د عملی سیاست تر ټولو لومړني ډگرونه ول دغه څیړنی زیاتره د لویدیز والو پوهانو له خوا شوی دی چی وی د خپلو څیړنو فکری او عقیدوی لید پر بنسټ دسیاست لپاره بیلابیل تعریفونه کړی دی نو په مقابل کی یی مسلمانو پوهانو چی له خپلی گروهی او لید سره سم دسسسیاست ویی ( لفظ) او مفهوم څنگه څیړلی دی او کوم تعریف یی ورته کړی دی هغه

نه یوازي د ایدیزوالو پوهانو له تعریفونو څخه بیل دی بلکی د مسلمانو پوهانو د تعر یف له مخی د سیاست پوهنی یا سیاست بنسټ هم له لرغوني یونان څخه ډیر وړاندي خي او هغه مهال ته سیرې کله چې الله تعالی (ج) پریښتوته خپله اراده څرگنده کړه چی غواړی انسان تخمکی و مخ خپل خلیفه وگرځوی په قاموسونو کی د(خلیفه) ویې مانا نماینده استازی مشر أمام أو میمونکی ښودل شوی دی دمفسرینو امام ابن جریر طبری رحمه الله د(خلیفه) کلیمی د تفسیر

هکله داسی ویلی دی (ابن مسعود رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنه د خلیفه یې مطلب په دی توگه بیان کړی دی چی زه پیداکوم پرځمکه خپل خلیفه او هغه به د مخلوق  ترمنځ د پریکړی کولو په وخت کی زما نایب

وی مسلمانانو پوهانو له انده سیاست داصلاح او ښایسته کولو په مانا ده د اسلامی من ابعو پر اساس ویلی شو چی الله تعالی (ج) په خپله اراده کی انسانان لپاره دځمکی د مخ دښایسته کولو چاره غوره کړی وه

**دسیاست لفظی پیژندنه**

**سیاست دعربی ژبی دساس له کلیمې څخه اخیستل شوی دی چی په اصل کی دچهارپایانو اداره کولو ته وایي خو دوخت په تیریدوسره ددغه کلیمي کاریدنه هم په عربي ژبه او هم په پښتو ژبه کی پراخه شکل غوره کړ چی په اوس وخت کی دغه کلیمه زیاتی معناوي افاده کوی مثلا قضاوت کول جزا ورکول خلک دیو کار په کولو اونه کولو په لور رهبری کول دخلکوداموړو دمدیریت کولو حکومت کول دهیواد داخلی او خارجی امور و تنظیمول**

**دهیواد له قلمروڅخه ساتنه او نور ساس ماضی حالت دی اداره کړی وو**

**یسوس حال اداره کوی او سوس مصدر دی چی معنی بی اداره کول . نو دساس یسوس دکلیمي له تجزیی څخه دی پایلی ته رسیږو چی دغه کلیمه په اصل کی اصلاح کولو رهبریکولو او دچارو مدیریت کولو ته ویل کیږی په قرانکریم کی دسیاست هم معنی کلیمه حکمت دی خو فرق ېی سیاست سره دادی چی حکمت پراخه مفهوم لری په قرانکریم کی ملک دمملکت او قانون ترڅنګه ځای پر ځای څو ځلی دحکمت یادونه شوی ده.**

**ومن الله توفیق**

**راټولونکی: زاهدالله الکوزی**

Telegram.me/llblibrary